مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ليکوال:  اکادمیسین محمد اعظم سیستاني
ژباړن : سیلانی

۲۰۲۰/۰۶/۰۵

# د احمدشاه بابا د ۲۴۸ تلین په ویاړ!

## روح دې ښاد! احمد شاه بابا، چې افغانستان دې موږ ته په میراث پرېښود.

کله چې وینو لږ و ډېر ۶۰ میلیونه کُردان د نړۍ په څلورو هېوادونو( عراق، سوریه، ایران او ترکیه) کې خواوشا سل کاله د خپلواکۍ د ترلاسه کولو او د کُردستان په نوم د یو خپلواک هېواد دجوړولو له پاره وسلواله مبارزه کوي. تر دې دمه په دغه لاره کې له ۴۰۰ زرو زیاتو کردي ناریته، ښځینه، پېغلو، ځوانانو او ماشومانو سر ښندني ورکړي، مګر دوی لا تر اوسه د یو خپلواک هېواد په جوړولو او د خپلواکۍ په تر لاسه کولو بریالي شوي نه دي. زهٔ د هغهٔ ۲۵ کلن ځوان او د افغانستان د بنسټ ایښودونکي په سوچ کې شم چې هېڅ نظامي او حربي پوهنتون يې نهٔ و لوستی، مګر لهٔ نظامي او سیاسي زړورتیا څخه برخمن ؤ .

احمد خان ابدالي د کندهار لهٔ سدوزیو څخه ؤ، دی ۱۷۲۲ ز کال په هرات ولایت کې دې نړۍ ته سترګې وغړولې. په ۱۷۳۱ ز کال، کله چې ددهٔ مشر ورور ذوالفقار خان د نادر افشار لهٔ خوا ماتې وخوړه، دی خپل پلرني ټاټوبي کندهار ته راستون شو، هلته د شاه حسین هوتکي لهٔ خوا زنداني شو او ۸ کاله يې په زندان کې تېر کړل. کله چې نادر افشار په ۱۷۳۸ ز کال د کندهار ښار فتح کړ،دی او مشر ورور يې ذوالفقار خان لهٔ زندان څخه د ایران مازندران ته تبعید کړل. احمد خان ابدالي پهٔ ۱۸ کلنۍ کې د نادر افشار د پوځ ليکو ته د ننه شو او لهٔ ۱۷۴۰ - ۱۷۴۷ ز کال پورې د نادر افشار په یرغلونو او جګړوکي يې د افغاني پوځ سره ګډونډ درلورد او په جګړو بریالی را ستون شو.

موږ باید د رب ستاینه وکړو او لهٔ احمد شاه بابا څخه مننه وکړو، هغه دا چې  دنادر افشار لهٔ وژل کېدو وروسته، هغه د ایران لهٔ خبوشان ( قوچان) څخه کندهار ته لهٔ افغان جنګیالیو سره یوځای  راستون شو. هغه ددې پرځای چې جنګیالي رخصت کړي تر څو خپلو کورونو ته ولاړ شي، خو برعکس نوموړی د خپلو هېواد والو پهٔ سوچ کې شو، ترڅو  هېواد وال يې د تل لهٔ پاره د پردیو لهٔ تېریو او ظلمونو څخه پهٔ کراره شي. دی د افغاني لښکرو لهٔ مشرانو څخه وغږېدهٔ او دوی يې پهٔ شېرسرخ سیمه کې د لویې جرګې لپاره را وبلل، تر څو لهٔ خپل منځ څخه یو کس د پادشاه یا زعیم پهٔ توګه وټاکي، چې  لهٔ دې وروسته ددې خاورې او افغانانو د مشرتوب مسؤولیت پهٔ غاړه واخلي، چې بلاخره د اتو ورځو خبرو اترو او مذاکراتو وروسته پهٔ جرګه کې ښکېل افغانان د پادشاه پهٔ ټاکلو او د یو خپلواک هېواد پهٔ جوړلو بریالي شول.

وروسته لهٔ ۶۰۰ کلونو د پخواني خراسان پر کنډوالو د افغانستان منځته را تلل او  د یرغلګرو ( خوارزمشاهیانو، مغولانو، تیموریانو، د هند بابریانو، تیموریانو، ایراني صفویانو او پهٔ ځانګړې توګه د نادر افشار ) هغه ظلمونه چې د خلکو لهٔ سرونو څخه يې منارونه جوړول پهٔ هر ځای کې و.  هر ملي او با احساسه کس  دې ته اړ کوي تر څو دې ستر انسان (احمد شاه بابا) ته د درناوي سر ټيټ کړي او لهٔ هغه څخه مننه وکړي، چې مونږ ته يې د افغانستان پهٔ نامهٔ هېواد پهٔ میراث پرېښود.

کلهٔ چې موږ پهٔ منځنۍ آسیا کې د کُردي او فلسطیني وګړو بې ساري مبارزې او سربښندې  وینو، نو باید ځانونه خوشبخته وګڼو، چې ۲۷۰ کاله وړاندې د اکتوبر پهٔ میاشت کې ددې هېواد د یو زړور او پر وطن مین بچي پهٔ مشرې مو، پرته لهٔ زیانونو او تلفاتو پهٔ ۱۷۴۷ ز کال  د یو خپلواک هېواد بنسټ کېښود، تر څو لهٔ دې وروسته هېڅ پردی


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو  همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

صوبه دار، والي  او  حاکم زمونږ پر وګړو واکمن نشي او خپلهٔ د خپل برخليک واکمنان شو. يعنې خپله يې وکړو او خپله يې ورېبو او پهٔ فردي او ټولنيزو لارو کې د هغه مصروفولو واک ولرو.

رښتيا هم که احمد شاه بابا نه وی،نن به مو د افغانستان پهٔ نوم هېواد نه درلود،چې بچيانو يې پهٔ نوم وياړلي وی. احمد شاه بابه د يو زړور، سربښندونکي او د برخليک ټاکونکو جګړو د فاتح او د يو افغان رهبر پهٔ توګه، پهٔ سفرونو کې د ربړو  او نورو ډېرو بېلابېلو حياتي او حيثيتي ګواښونو پهٔ زغملو سره افغانانو ته وياړ ور پهٔ برخه کړ.

احمد شاه بابا هېڅ کلهٔ خپل هېواد ته خيانت نهٔ دی کړی او خپل هېواد وال يې خوار و حقير نه دي ګڼلي. هېڅکه يې ځان لهٔ خپلو  هيواد والو لوړ نهٔ دی ګڼلی. هېڅکلهٔ يې پهٔ عيش و نوش او خوش ګزرانی وقت نهٔ دی تېر کړی.هېڅکلهٔ يې لهٔ کوم بهرني ځواک څخه امر نهٔ دی تتر لاسه کړی، چې پرخپلو  هېواد والو ظلم وکړي. احمد شاه بابا پر ته د هيواد لهٔ خپلواکی او د هېواد والو لهٔ هوسايني او سوکالئ څخه بله هيله او آرمان نه درلود. دا پهٔ داسي حال کی ده،چې نومورې خول اخيسته او خول به يې نورو ته وربښه، خو ده هېڅ کله پهٔ خپل سر خول نه کېښود، بلکې د نورو  هېواد والو پهٔ شان يې لونګی پر سر کېښوده، لهٔ هغوی سره به پر فرش کړې ځمکې کښېناستهٔ  او د هغوی ستونزو ته به يې غوږ نيو، ترڅو دمظلومانو غږ واوري. احمد شاه بابا د يو زړهٔ سوانده پلار پهٔ شان لهٔ خپلو  هېواد والو سره ناسته ولاړه درلوده، همدا لامل و، چې خلکو  هغه ته «بابا» ويل.

انګليسي د پلومات او تاريخ ليکوونکی الفنستون ليکلي: « پهٔ رښتيا سره که چيرې پهٔ آسيا کې کوم شاه د خپل ملت لهٔ خوا د درنښت وړ وي، هغه پرته لهٔ احمد شاه  بل څوک نهٔ دی.» ( الفنستن، افغانان، ترجمه فکرتن، ۳۸۱ مخ )

**روح يې ښاد او يادونه يې تلپاتې!**



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ